ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۶/۰۶

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
### (دوه اویایمه برخه)

## ډاکټر مـحـمد اسحق نـادري

د محـمد علم او ګلِ نسا زوی په ۱۹۳۶ز کال کې په کابل کې زېږېـدلی دئ. لومړنی او منځنی زده کړې ئـې په افغانستان کې کړي دي. په ۱۹۵۵ز کال کې د امریکا متحده ایالاتو ته لاړ. په ۱۹۵۸ز کال کې ئـې خپل لیسانس د نبراسکا له پوهنتون څخه واخیست؛ په ۱۹۶۰ز کال کې ئـې خپله ماستري واخیسته او په ۱۹۶۵ز کال کې ئـې خپله دکتورا په اقتصاد کې په برکلي کې د کالیفورنیا له پوهنتون څخه واخیسته. له ۱۹۶۱ تر ۱۹۶۲ز کال پورې ئـې په برکلي کې تدریس وکړ؛ له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۶ز کال پورې ئـې په نارث وسترن یونیورسیټي کې تدریس وکړ؛ له ۱۹۶۶ تر ۱۹۶۷ز کال پورې ئـې د شیکاګو د بزنس [1] په پوهنځي تدریس وکړ؛ له ۱۹۶۸ تر ۱۹۷۰ز کال پورې ئـې د کولمبیا په پوهنتون کې، او په ۱۹۷۰ز کال کې ئـې د نیویورک په پوهنتون کې تدریس وکړ. له ۱۹۷۲ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د نیویورک د پوهنتون د اقتصاد د پوهنځي رئـیس او اوس «د اقتصاد پروفیسر جي ګولډ» [2] ددې پوهنځي رئـیس دئ. د اقتصاد په ډګر کې د ګڼ شمـېر کتابونو او مقالاتو لیکوال. د مرحوم ډاکټر همایون له لور مـېـرمن طاهرې سره ئـې وادهٔ کړی دئ. ډاکټر همایون په قوم محمد زی وو.

## سید نصیر/ نصر شاه نـادري [3]

د اسمٰعلیه فرقې د مشر نادر شاه کیاني زوی په ۱۹۳۳ز کال کې په کیان کې زېږېـدلی دئ. د دوشي د سهامي کمپنی رئـیس. د بغلان له دوشي څخه د ولسي جرګې استازی. په ۱۹۶۸ز کال کې د ولسي جرګې انتخابي مرستیال رئـیس. په افغانستان کې د اسمٰـعلیه ټولنې مشر. خصوصي زده کړې لرې. مورنی ژبه ئـې دري ده. له ۱۹۸۱ز کال راهیسي په انګلستان کې اوسـېږي.

---

[1] -Business
[2] - Jay Gould Professor of Economics
[3] - Nadiri Sayyed Nasir Shah : ددغـهٔ نوم مخې ته ئـې په عربي الفباء سید نصر شاه نادري لیکلي دي حال دا چې د انګلیسي تورو له مخې سعید نصیر شاه نادر لوستل کـېږي. دا چې کوم تلفظ ئـې صحیح دئ والله اعلم. - ژ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## جمیله ناهید

ډ غوايي له پاڅون وروسته‌د افغانستان د ښځو د ډیموکراتیک سازمان DOAW د نړۍ والو اړیکو منشي او د اجرائیه کمېټې غړې.

## مـحـمـد عزيز نعیم

د سردار محمد نعیم زوی په ۱۹۳۵ز کال کې زېږېدلی دئ. له ۱۹۴۱ تر ۱۹۴۴ز کال پورې د استقلال لیسې ته تللی دئ؛ او له ۱۹۴۴ تر ۱۹۵۴ز کال پورې د حبیبیې لیسې ته تللی دئ. په ۱۹۵۹ز کال کې ئـې خپل لیسانس د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو له پوهنځي څخه ترلاسه کړ؛ له ۱۹۶۲ تر ۱۹۶۵ز کال پورې ئـې خپله ماستري د آکسفورډ له پوهنتون څخه تر لاسه کړه. تر ۱۹۷۲ز کال کې د کابل پوهنتون د نړۍ والو اړیکو مدرس. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۷ز کال پورې د باندنیو چارو په وزارت کې د تړونونو یا د معاهداتو د څانګې مرستیال دایرکتر. له ۱۹۷۷ تر ۱۹۷۸ز کال پورې په لندن کې په افغان سفارت کې مقرر سو. د پخواني پادشاه محمد ظاهر له لور مریم سره ئـې وادۀ کړی دئ. اوس په لندن کې ژوند کوي او له همدې ځایه ئـې خپل «سر خلاصی لیک» [4] خپور کړ.

## عبدالحمید نعیمي

له بدخشان څخه د جنرال محمد نعیم لمسی په ۱۹۱۹ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ؛ (جنرال محمد نعیم په ۱۸۸۰ز کال کې له امیر عبدالرحمن خان سره د کابل په نیولو کې برخه اخیستې وه.) سویتزرلند ته لاړ. له ۱۹۴۹ تر ۱۹۶۳ز کال پورې په ایټالوي راډیو کې د افغانستان – ایران د ورځني پروګرام ویاند. له ۱۹۵۳ تر ۱۹۷۸ز کال پورې په روم کې په افغان سفارت کې اداري او کلتوري مأمور. له ۱۹۵۹ تر ۱۹۸۳ز کال پورې په (IsMEO) [5] کې د پارسي ژبې نیمه وقته ښوونکی. له ۱۹۷۸ تر اوس پورې د پخواني پادشاه سکرتر. په ایټالیا کې د مجاهدینو استازی. له پخواني سفیر او وزیر، علي محمد او د مالیې له پخواني وزیر او مرستیال صدراعظم، عبدالله یفتلي سره کورنۍ اړیکې لري.

## علي احمد نعیمي

د چنداول د میرزا محمد نعیم زوی په ۱۹۱۴ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۳۳ز کال کې د اماني له لیسې څخه فارغ سوی دئ. مؤرخ او د ادبي ټولنې غړی. د افغان تأریخي ټولنې یو له بنسټ ایښودونکو څخه. د آریانا د مجلې لومړی محرر. د وطن ورځپاڼې ته ئـې هم خپل مقالات لېږل. د څلورو کالو لپاره زنداني سو. د راډیو کابل، د باختر د خبري آژانس او د مطبوعاتو د ریاست کارمند. د ۱۹۷۰ز لسیزې په اوږدو کې وفات سو.

## ضیأ نعیمي

په ۱۹۲۹ز کال کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۷ز کال کې د نجات له لیسې څخه فارغ سوی دئ. جرمني ته لاړ چې کرهنه ولولي. په نړۍ وال بانک کې ئـې کار وکړ. په جرمني او د امریکا په متحده ایالاتو کې ژوند کوي. په ۱۹۷۷ز کال کې کله چې سویلي آسیا ته په یوۀ مأموریت روان وو د الوتکې په پېښې کې ووژل سو.

---

[4] - The Open Letter

[5] - Instituto per it Medio Oriente (IsMEO)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## محمد حیدر نیسان

د سردار امیر محمد زوی په ۱۹۱۴ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د استقلال په لیسې کې ئې زده کړې کړې دي. د باندنیو چارو په وزرات او د افغانستان بانک کې ئې کار کړی دئ. له ۱۹۶۰ تر ۱۹۶۶ز کال پورې په لندن کې د "افغان سوداګری د کمپنی"[6] مدیر. په ۱۹۳۶ز کال کې ئې د "اې خوري مهٔ ژاړه/ ای خواهر گریان مکن"[7] ډرامه ئې د مثنوي په ۹۰۰ مصراعو کې ولیکله؛ د اشعارو ټولګه ئې ۱۹۵۰؛ او ګړ شمېر نو اشعار، مقالات او رسالې ئې په ورځپاڼو او مجلو کې خپاره سوي دي. همدا شان، ډرامه لیکونکی، خطاط او د اوبلن رنګ د مناظرو نقاش. په لندن کې ژوند کوي.

## ناجیه دوګان

د اعلیحضرت امان الله خان لور په ۱۹۳۰ز کال کې په روم، ایټالیا کې زېږېدلې ده. په ایټالیا او د سویټرزلند په "ګشتاد"[8] کې ئې زده کړې کړې دي. د روم د باندنیو ژبو او ادبیاتو له پوهنتون څخه فارغه سوې ده. په ۱۹۵۶ز کال کې استانبول ته لاړه چې د خپلې مور کورنۍ وګوري او له "ایلتر دوګان"[9] په "آی وه لوک"[10] کې د زیتونو د تیلو د تولید د فابریکې له څښتن" سره ئې ولیدل او په ۱۹۵۷ز کال کې ئې ورسره واده وکړ. په ۱۹۷۶ز کال کې د استانبول په پوهنتون کې د ایټالوي ژبې او ادبیاتو په پوهنځي کې استاده. د عمر او حمیرا په نومونو دوه بچیان لري چې دواړه ئې د استانبول په پوهنتون کې محصلین دي.

## ډاکټر سید عبدالعزیز نجیبي

د سید عبدالودود نجیبي او آمنې حبیبي زوی په ۱۹۳۹ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۸ز کال کې د نجات له لیسې څخه فارغ سوی په ۱۹۶۳ز کال کې ئې د کابل پوهنتون د اقتصاد له پوهنځي څخه خپل لیسانس تر لاسه کړ. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۴ز کال پورې د اقتصاد د پوهنځي اسیستانت. په ۱۹۶۵ز کال کې جرمني ته لاړ او په ۱۹۷۴ز کال کې ئې خپله کتورا تر لاسه کړه. افغانستان ته راستون سو او له ۱۹۷۵ تر ۱۹۷۷ز کال پورې پوهندوی وو. په ۱۹۷۷ز کال کې بېرته جرمني ته لاړ.

**نور بیا**

## ډاکټر نجیب الله

د اختر محمد زوی او د پکتیا د احمدزیو د قومي مشر غوث الدین جانداد لمسی په...

قدرمنو لوستونکو! د بناعلي رحمت آریا د آرشیف: لینک

[6] -Afghan Trading Company, London
[7] -Do not cry, Oh sister!
[8] -Gstaad
[9] -Ilter Dogan
[10] -Ayvalik


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خېر و لولئ